## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**2سنبله _سال 1402**



خبرنامه



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------------------1

بیش از 30 هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد ----------------------------------------------------------------1

یونان: ځنګله کې ۱۸ مړي موندل شوي چې ښايي د کډوالو وي-------------------------------------------------------2

پولیس اسپانیا یک شبکه بزرگ تولید اسناد جعلی برای کارگران مهاجر را دستگیر کرد--------------------------------3

د سعودي لخوا د مهاجرو د وژلو قضیه به څېړل کیږي----------------------------------------------------------------5


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت




**د ایران څخه دوه  زره او ۴۶۱ تنه افغان مهاجر د زمري  په ۳۱مه  هېواد ته راستانه شول.**

**د هرات  ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۱۰۱۰  تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان  ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې**

## بیش از 30 هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد

ویب سایت وزارت

**در جریان ماه گذشته ( اسد ) بیش از 30 هزار خانواده بیجاشده در 20 ولایت ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.**

طبق گزارشات واصله از واحد های دومی وزارت امور مهاجرین، **31** هزار و **408** خانواده بیجاشده از اثرجنگهای گذشته وحوادث طبیعی در ولایات هرات، فاریاب، غزنی، تخار، سمنگان، بلخ، سرپل، ننگرهار، پکتیکا، پکتیا، میدان وردک، جوزجان، بامیان، قندهار، بادغیس ، پروان، نورستان، بدخشان، خوست و لغمان با همکاری شماری از سازمان‌های مددرسانی بین المللی، مساعدت شده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته‌های مواد غذایی، پول نقد، صحی، البسه و سولر بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد

## یونان: ځنګله کې ۱۸ مړي موندل شوي چې ښايي د کډوالو وي

مهاجرنیوز




یوناني چارواکو د سه شنبې په ورځ دادیا ملي پارک کې چې له ترکیې سره پولې ته نږدې موقعیت لري ۱۸ سوځېدلي مړي موندلي دي. ویل کېږي چې دغه کسان به ښايي کډوال وي .

یوناني چارواکي وايي د سه شنبې په ورځ (د اګست ۲۲مه) یې له ترکیې سره پولې ته څېرمه د دادیا په ملي پارک کې ۱۸ سوځېدلي مړي موندلي دي. له تېرې دوشنبې راهیسې دغه ځنګله کې پراخه اورلګېدنه روانه ده .

چارواکي ګومان کوي چې دغه مړي د هغو کدوالو دي چې له ترکیې څخه له اسنادو پرته یونان ته دننه شوي .



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د یوناني ژغورونکو وياند يانيس ارتوپيوس دولتي تلويزيون سره خبرو کې ويلي دي چې دوی دا څېړي چې ايا موندل شوي مړي د هغو مهاجرو دي چې په ناقانونه توګه يونان ته اوښتي دي که نه. نوموړي زياته کړې چې دغه جسدونه د الکساندروپوليس ښار په شمالي برخه کې موندل شوي دي.

په ورته مهال د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې د سه شنبې په ورځ پر خپله ټويټر پاڼه دا پېښه «دردوونکې» وبلله او د قربانيانو له کورنيو سره همدردي وښودله .

د ځايي رسنيو د راپورونو له مخې د دغو مړو تر موندل کېدو لږ وروسته ياد پارک کې ۸ نور جسدونه هم موندل شوي دي. ژغورونکو ويلي دي چې ياده سيمه کې د لټون عمليات ادامه لري .

د رواني اونی له پيل راهيسې يوناني ځنګلونو کې اورلګېدنې تر ۲۰ کسان وژلي دي. د اتن په شمالي برخه کې د تېرې دوشنبې په ورځ (د اګست ۲۱مه) د يو احتمالي کډوال او يو شپون مړي موندل شوي وو.

دمګړۍ د تېزو بادونو او د لوړې درجې تودوخې له امله د يونان په شمال ختيځو ځنګلونو کې لګېدلی اور د خپرېدو په حال کې دی .

## پولیس اسپانیا یک شبکه بزرگ تولید اسناد جعلی برای کارگران مهاجر را دستگیر کرد

مهاجرنیوز



پولیس اسپانیا یک شبکه بزرگ تولید اسناد جعلی و به کارگیری مهاجران غیرقانونی در بخش زراعت را کشف و ۲۲ تن را به اتهام عضویت در این شبکه دستگیر کرد. مهاجران هر کدام در بدل اسناد غیرقانونی، مبلغ ۴۰۰ یورو به شبکه می‌پرداختند.

مقام‌های اسپانیایی روز سه شنبه از دستگیری ۲۲ تن به اتهام عضویت در یک شبکه تولید اسناد جعلی برای مهاجران غیرقانونی خبر دادند.

پولیس اعضای این شبکه را که گفته شده پاکستانی است، به فعالیت‌های جنایتکارانه، تولید اسناد جعلی، نقض حقوق شهروندان خراجی و حقوق کارگران متهم کرده است.

به گفته مقام‌ها، مهاجران برای خرید اسناد هویت هر یک ۴۰۰ یورو به شبکه می‌پرداختند و سپس با این اسناد غیرقانونی در مناطق زراعتی در نزدیکی تورتوسا استخدام می‌شدند.

وزارت داخله اسپانیا در خبرنامه‌ای گفته است که اعضای شبکه بر اساس یک سازماندهی دقیق، انتقال روزانه مهاجران به محل کار و اسکان آن‌ها را به عهده داشتند و در بدل آن از مهاجران پول اضافی می‌گرفتند.

شبکه یک سیستم ترانسپورتی بزرگ را در اختیار داشت و روزانه ۱۰۰ مهاجر را به مزارع تورتوسا انتقال می‌داد.

پولیس هنگام عملیات مبلغ ۳۰ هزار یورو پول نقد، دو موتر و یک چاپگر لیزر را به دست آورد.

اسپانیا به دلیل محصولات زراعتی سرشار و متنوع خود «انبار اروپا» را نام گرفته و حدود ۸۰ درصد نیازهای کشورهای مختلف در بخش سبزیجات را تامین می‌کند.

در همین زمینه :زندگی دشوار کارگران فصلی مهاجر در اسپانیا

کارگران غیرقانونی، قربانیان برده داری مدرن

اما سازمان‌های غیردولتی پیوسته از شرایط غیرانسانی زندگی کارگرانی که به گونه غیرقانونی در مزارع اسپانیا کار می‌کنند، انتقاد می‌کنند.



**سازمان‌های غیردولتی پیوسته از شرایط غیرانسانی زندگی کارگرانی که به گونه غیرقانونی در مزارع اسپانیا کار می‌کنند انتقاد می‌کنند. عکس: پیکچر الیانس**

**یک گروه از کارشناسان شورای اروپا در مبارزه علیه برده داری مدرن در ماه جولای سال گذشته در گزارشی نوشتند که هنگام بازدید از چندین مزرعه ۲۵ کمپ غیررسمی را دیده‌اند که در آن‌ها ۹۱۴ مهاجر از جمله ۹۹ زن زندگی می‌کردند.**

**بیشتر این مهاجران کارگران بدون مدرک از مراکش، مالی و غنا بودند و در اتاق‌های کوچک ساخته شده از پلاستیک به سر می‌بردند.**

**بر اساس گزارش، این کارگران هیچگونه دسترسی به آب آشامیدنی، برق و تشناب نداشتند.**

**سازمان‌های خیریه به کارشناسان گفته‌اند که بیشتر کارگران استخدام شده، قربانی برده داری مدرن هستند و خیلی بیشتر از ساعات قانونی و در بدل معاش بسیار پایین تر از حداقل کار می‌کنند یا گاهی حتی معاش هم ندارند.**

**بیشتر بخوانید :کرونا ویروس: کارگران مهاجر در اسپانیا از کمبود مواد خوراکی، آب و ماسک شکایت دارند**

## د سعودي لخوا د مهاجرو د وژلو قضیه به څېړل کیږي

مهاجرنیوز



**سعودي عربستان او ايتوپيا ويلي دي چې د سعودي پر سرحد د ايتوپيايي مهاجرو د په ډزو وژل کېدني تورونه به په مشترکه توګه څېړي.**

**د بشري حقونو د څار نړيوال سازمان هيومن رايټس واچ په خپل يو راپور کې پر سعودي سرحد ساتونکو تور ولګاوه چې په سلونو مهاجر يې د يمن سره پر خپل سرحد په ډزو وژلي دي. د راپور له مخې وژل شوي او ژوبل شوي مهاجر د ايتوپيا سره تعلق لري. سعودي دغه تورونه رد کړل.**

**اوس د سعودي عربستان او ايتوپيا هيواد چارواکو ويلي دي چې په مشترکه توګه به د دغو تورونه په هکله پلټنې کوي. د ايتوپيا د باندنيو چارو وزارت وويل چې «پلټنې به د سعودي چارواکو سره په ګډه وشي«.**

**په نيويارک کې مستقر د بشري حقونو د څار سازمان د سلونو په ډزو وژل شوو مهاجرو خبره کړېده.**

**د بشري حقونو د څار نړيوال سازمان (هيومن رايټس واچ) په خپل يو راپور کې پر سعودي عربستان تور لګولی دی چې په سلونو داسي مهاجر چې د پناه په تلاښ دغه هيواد ته د ورتلو په هڅه کې ول، پر سرحد باندې په ډزو ويشتلي دي. اکثريت دغه مهاجر له افريقايي هيواد ايتوپيا څخه و تونس او بيا له تونس څخه و سعودي عربستان ته مهاجر کيږي.**

**د بشري حقونو ياد سازمان تور لګولی دی چې د سعودي عربستان پوله ساتونکي عسکر پر ورتلونکو مهاجرو ډزي کوي. د دغه سازمان په وينا ورته عيني شاهدانو او په ډزو ويشتل شوو کسانو ويلي دي چې سعودي عسکرو پر هغوی له ډز کولو مخکې پوښتنه کوي چې د بدن په کوم ځای يې ډز وکړي. ياد سازمان پر سعودي د مهاجرو د ډليزو وژنو تور لګولی دی.**

**په سعودي عربستان کې ۷۵۰ زره ایتوپیایي وګړي ژوند کوي چې اکثري يې بېله اجازې دغه هیواد ته داخل شوي دي. په ۲۰۲۲ کال په د ایتوپیا په شمالي برخه تیګرې کې د جګړې د پېل وروسته په لسونو زره وګړي بېځایه شوي دي.**

خبرنامه